# پښتو مرثیه او د پښتو ادب مقامي اصناف

# Pashtu Marsiya and Local Genres of Pashto Literature

Hassan G. Eshrat [1]

Marsiya (elegy) is a poem that is written to commemorate the death of some one wherein he laments the death and expresses his grief. The genre carries particular importance in every tongue of the East and the West. In the beginning only personal elegies were written but with the passage of time the genre has become limited in scope and has been linked with a specific background the tragedy of karbala. This is why now-a-days Marsiya is regarded as a specific term which is interpreted as a poetic creation dealing with the causes and effects and what happened at karbalal. It highlights the lofty deeds and characters of those who participated in the battle of karbala. Since Marsiya is a poetic subject, therefore, it is composed in diverse genres including Masnavi, Naoha, Ghazal, Rubaai, and salam including some foke genres like tappa, charbita and nimakaye. In some areas of pakhtunkhwa like kurram Agency, Orakzai Agency and Bangash areas, the tradition of Marsiya writing is more common and, as such, it has came down to be written in local genres as well. These local genres include guftar, biani and sandara. This article throws light on the use of these local genres for the purposes of Marsiya.

**Keywords:** Marsiya (elegy), grief, personal elegy, tragedy of karbala, Imam Hussain (AS), martyrdom, masnavi, orakzai, local genre, guttar, bayani, sandara

## د موضوع اهمیت

د کربلا واقعه د تاریخ اسلام یوه داسې زړهٔ دریدونکې پېښه ده چې د خپل عهد نه تر ننه پورې د ملت اسلامیه یوې زنده واقعې درجه لري ۔ ددغې پېښې اثرات نه یوازې تر اوسه تراوسه پورې قائم دي بلکې د هر دور په انساني فکر ئې خپل اثر اچولے دے ۔

د واقعه کربلات اسبابونه ، نتیجې او اثرات د مرثیې په ژبه بیان کولې شي ۔ مرثیه په بېلابېلو زمانو کښې بېلا بېلو شاعرانو لیکلي دي او نن هم لیکلي کېږي ۔ د هر دور خپلې شعري ضرورتونه او تقاضې

1 Director, Climate Change Committee, Senate, Ph.D Schloar, AIOU Islamabad.

او اسلوب وي ـ په دې مقاله کښې به د پښتو مرثيې ننني دور اسلوب لار د تيراه اورکزئ او کرمه پاره چنار په سيمو کښې د مرثيې په مقامي اصنافو جاج اخستلې شي ـ

طريقه تحقيق :- نوے تحقيق يوازې د معلوماتو جمع کول نه دي بلکې د اول نه تاکلې شوې طريقه تحقيق لاندې د يو موضوع داسې مطالعه کول دي چې د هغه موضوع په حقله پټ حقائق مخې ته راوړل شي ـ او د هغه په رڼا کښې نتيجې مرتب کړې شي ـ

په دې مقاله کښې چونکې د هغه مطبوعه او غېر مطبوعه مرثيون بياضونو مطالعه شامله ده په کومو کښې چې د بېلا بېلو مرثيه ګو شاعرانو کلام موجود دے لهٰذا دې مقالې ليکلو دپاره ما دستاويزي طريقه تحقيق اختيار کړې ده ـ

## پس منظري مطالعه

په تيراه ، کرمه او علاقه بنګش کښې بلها داسې مرثيه ګو شاعران تېر شوي دي او څنه اوس هم ژوندي دي کومو چې په خپل ټول ژوند کښې يوازې مرثيه ليکلې ده ـ ما د ورکوټوالي نه د داسې شاعرانو په مېنځ کښې ژوند تېر کړے دے ـ اول د مرثيو کتابونو چاپ کولو دستور نۀ وۀ ـ مرثيه ګو شاعرانو او مرثيه خوانو به په خپل بياضونو کښې مرثيې محفوظ ساتلې ـ تېر شوي لسو کالو نه په کرمه ، اورکزئ او علاقه بنګش کښې د مرثيو مجموعې چاپ کولو کار شروع شوے دے ـ ما سره ذاتي طور بلها چاپ او ناچاپ مرثيو مجموعې او بياضونه موجود دي ـ

مرثيه د عربي لفظ رثا نه مشتق دے چې معنٰی ئې د مړ شوي کس صفت بيانول دي ـ هغه شعرونه يا نظم چې په کوم کښې د يو مړ کس په مړينه يا د هغۀ شهادت حال او مصيبتونو ذکر وي ـ په مرثيه د مدح اطلاق هم کېدے شي خو فرق دادے چې د ژوندي کس صفت بيان کولو ته قصيده او د مړ شوي صفت چې په کښې د افسوس اظهار هم شوے وي ، ته مرثيه وئيل کېږي ـ ويرنه په پښتو ژبې کښې د مرثيه مترادف تور ے دے ـ که د مرثيه تعريف اوکړے شي نو هغه به دا وي چې مرثيه يو داسې نظم ته وائي چې په کوم کښې د چا په مړينه د غم او د حسرت اظهار وکړے شي ـ او په کښې د هغه د خوبيانو بيان وکړے شي(۱) ـ

دا یو حقیقت دے چې د انسان جذبو او احساساتو بیان د ټولو نه ښۀ وسیله شاعري ده ۔ یو شاعر ډېر حساس وي د هغۀ د جذباتو او احساساتو په صحیح توګه ترجماني شاعرۍ نه سېوا په بل یو اندازهم نۀ شي کېدے ۔ مرثیه د نړۍ د ټولو ژبو د شاعرۍ یو اهمه برخه ده ۔ ځکه مرثیه په اصل کښې یو شاعرانه موضوع ده ۔

## د مرثيې اصطلاحي مفهوم

مرثيې ته د نړۍ په ټولو ژبو کښې یو ځانګړے مقام ترلاسه دے ۔ په هره ژبه کښې به اول اول شخصي مرثيې لیکل کېدې ددغه مرثیو په موضوعاتو کښې به د اهل بېت ، خلفاء کرام ، ائمه عظام، بزرګان دین د قام مشران او علماء شامل وو ۔ عربي ، فارسي او اردو ژبې شاعري ددغه شان شخصي مرثیو نه ډکې دي ۔ پښتو کښې هم شخصي مرثيې څۀ په ګڼ شمېر کښې موجودې دي ۔ پښتو ادب کښې مرثیه د تېرو یو زر کالو نه موجوده ده ۔ او کومه شخصي مرثیه څۀ مونږ ته په پښتو ادب کښې په نظر رائحي هغه د امیر محمد سوري په مرګ د شېخ اسد سوري مرثیه ده ۔ دغه شان نورو مرثیو کښې د شاه محمود هوتک په مرګ د هغۀ خور بي بي زینب مرثیه ، د نظام په مرګ د ستر خوشحال مرثیه او د خوشحال بابا په مرګ د هغه زوي اشرف خان هجري مرثیه او داسې نورې ۔

خو وخت تېرېدو سره اوس مرثیه د کربلا د خونرېز پېښو په تناظر کښې لیکل شوي منظم کلام ته مخصوص شوےدے ۔ مطلب دا چې نن سبا مرثیه د یو داسې شعري اصطلاح ته رامحدوده شوې ده چې په هغې کښې داسې شعري تخلیقات شامل دي په کوم کښې چې به د کربلا پېښې اسبابونه ، عوامل او واقعات او په دغه پېښې کښې د برخه اخستونکي کردارونوکردار په ډاګه کول دي ۔ دا شعري تخلیقات ته په ادب کښې،نوحه ، مرثیه ، سلام ، رباعي ، ګفتار ، بیان یا سندره وئیل کېږي ۔

## مرثیه صنف که موضوع؟

د صنف جمع اصناف دي ۔ د صنف تعریف مونږ داسې کولے شو چې دا د هېئت او مواد په ترخ کښې د نظم او نثر جدا جدا قسمونه دي ۔ دې هر یو ته بېله بېله صنف وئیل کېږي ۔ د مثال په

توګه په نظم کښې غزل ، چاربیته ، لوبه ، ټپکی او داسې نور ـ په نثر کښې ناول ، افسانه او داسې نور ـ پښتو ادب کښې مونږ ګورو چې مختلفو شاعرانو مرثیه په مختلفو اصنافو کښې لیکلې ده چا په چاربیته کښې چا په غزل کښې چا په نوحه کښې او چا په ګفتار او بیان کښې ـ

موضوع : د موضوع معنیٰ هغه مواد ، خیالات او افکار دي چې یو ادیب یا شاعر ئې نورو خلقو ته رسول غواړي ـ دا څنګه پکار دے ـ یو موضوع ښۀ هم کېدے شي او بده هم ـ دا سائنسي هم کېدے شي او معاشي یا سماجي هم ـ د مرثیې موضوع غم یا مرګ دے ـ مرثیه شخصي وي یا که مذهبي د دواړو موضوع هغه غم دے چې د چا په مړینه هغه وئیل شي ـ پس مونږ دا وئیلې شو چې مرثیه موضوع ده او په مختلفو اصنافو کښې ئې اظهار شوے دے ـ

لکه څنګه چې ذکر اوکړے شو چې مرثیه پښتو ادب کښې له تېرو زرو کالو راسې موجوده ده اول به شخصي مرثیې لیکلې کېدې ـ دې باره کښې رضا همداني لیکي : ترجمه : ”په پښتو تذکرو کښې مونږ ته چې څومره مرثیې په لاس راغلي دي هغه ټولې د پښتنو شخصیتونو په حقله دي ـ په دې کښې د کربلا شهیدانو په سلسله کښې یوه مرثیه هم په نظر نۀ راځي ـ دا کمبوت د ملا نعمت الله او سید ابوعلي شاه په خپلو غټو جنګنامو سره پوره کړے دے ـ(۲) “

د پښتنو په علاقو په خاص توګه اورکزئ ایجنسي ، کرم ایجنسي ، پاړه چنار او په علاقه بنګش کښې د پښتو مرثیې اغاز سید انور شاه کړے وۀ چې یو نامتو صوفي او عالم باعمل شخصیت تېر شوے دے ـ د هغۀ زمانه ۱۷۹۸ء ـــــ ۱۷۳٤ء دے ـ سید حسن انوري د سید شاه انور په حقله لیکي :

> ”د پښتنو علاقې کښې سید انور شاه نه مخکښې زمانې کښې د سیدالشهداء حضرت امام حسین؏ ماتم به ډېره ، ناموزون دستورونو او رواجونو په مطابق کېدو ـ سیدانور شاه داسې ټول دستورونه ختم کړل ـ منظم او با ادب طریقې سره ئې تعزیه داري او ماتم داري شروع کړه ـ(۳) “

د سید حسین انوري د خبرې سره زۀ هم اتفاق کوم ځکه چې ما خپل مشرانو نه اورېدلي وو چې په کرمه کښې به سینه زني کومو ذکرونو سره کېده هغه اول دا شان وه ـ

| | | | |
|---|---|---|---|
| زر | زري | امامه | جار |
| مشهدي | | امامه | جار |

ځني مشران وائي چې دا مشهدي امام لفظ اصل کښې "ماشهید امامه" وو ـ څۀ وخت تېرېدو سره بدل شو او په تيزئ کښې به خلقو مشهدي امامه وئيلو ـ سيدانور شاه خپله يو صوفي شاعر وۀ او ډېرې د اوچتې پايې مرثيې ئې ليکلي دي ـ له بده مرغه د تيراه کلايه چې د هغۀ کلے وو په څو څو ځله سوزول شوے وو نو په دغه سوزولو کښې د هغه ډېر کلام ضائع شوے دے ـ اوس د سيد حسين انوري په هلو ځلو د انور شاه سيد صرف ديارلس مرثيې موندل شوي دي چې په صحيفه انوريه کښې چاپ دي ـ دا مرثيې د مثنوي په هېئت کښې ليکل شوي دي او ډېرې اوږدې اوږدې دي ـ سيدانور شا خپل مريد خاص قنبر علي خان ته هم د کربلا په موضوع د مرثيو ليکلو بلنه ورکړه ـ هغه دا بلنه نۀ صرف قبوله کړه بلکې د داسې اعلىٰ پايې مرثيې ئې او ليکلې چې دا پښتو ادب به بجاطور فخر کولے شي او سيد انور شاه چونکې يو صوفي او مشر وۀ او د ميا بزرګوار په نوم مشهور وۀ ـ ځکه دې مکتب ته "انوريه مکتب" هم وئيل شي ـ انوريه مکتب ، قنبر علي خان نه پس ډېر د اوچت مقام مرثيه ګو پيدا کړل ـ په دغه مرثيه ګو کښې هوس کربلائي ، محمد يار ، کامل شاه، سيد ظاهر شاه ، حسن ، سيد شاه رضا ، سيد شاه ميران او سيد شاه ګلون شامل وو ـ تيراه اورکزئ او بنګش علاقه کښې يو ګڼ شمېر نور مرثيه ګو هم وو چې په دغه علاقو کښې ئې مرثيه ليکله د مثال په توګه دوست علي ذاکر ، نوروز علي ، سمند علي، خادم حسين ، ګوهر علي ، غلام نبي ، ملا عبدالجبار ، الحاج رېحان علي او داسې نور ـ او اوسنئ زمانه کښې مشتاق حسين ، محمد هلال ، واجد الله بنګش ډېره ښۀ مرثيه ليکي ـ

کرم ايجنسي پاړه چنار سيمه کښې پښتو مرثيه اولني ليکونکو کښې اسماعيل خداے نظر ، نادرعلي ، ملا اسماعيل ، سيد جعفر حسين شامل دي ـ دوي نه پس بيا محمد امين ، سردار علي ، سيد محمد او داسې نورو مرثيه ګو ډېرې ښۀ مرثيې ليکلي دي ـ موجوده دور کښې محمد حسنين ، سيد عارف ، فقير حسين، روشن بنګش او داسې نور لګيا دي د مرثيې خدمت کوي ـ

مرثيې اود کړمې ، تیراه او بنګش علاقو مقامي ادبي اصناف : پښتو مرثيه اول په مثنوي کښې لیکل کېده ـ سید انورشاه ، قنبر علي خان ، ملا نعمت الله ، سیدابوعلي شاه ، هوس کربلائي ، سید شاه مهران او سید شاه ګلون تر څۀ وخته پورې مرثيه په مثنوي کښې لیکله ـ دې بیان شوي مرثيه ګو ډېرې اوږدې اوږدې مرثيې پښتو ادب کښې موجودې دي او شته ـ قنبر علي بيا د غزل په هېئت کښې ډېرې د ابیاتو مرثيې هم لیکلي دي ـ خداے نظر په پښتو کښې د کمو اشعارو مرثيې لیکل شروع کړي وو او سید محمد مرثيې ته یو عوامي انداز اوبخښلو ـ سید محمد نه وروسته بيا د مرثيو یو ګڼ شمېر شاعران مخې ته راغلل ـ وخت تېرېدو سره د مرثيې په هېئتونو کښې هم بدلون راغلو ـ مثنوي نه پس مرثيه د غزل او نوحې په هېئت کښې لیکل شروع شوه ـ رو رو دا هېئتونه په مقامي انداز کښې لیکل شروع شول ـ لکه ګفتار،بیاني ، سندره او داسې نور ـ

دا د پښتو مرثيې ځانګړي اصناف دي ـ پښتو ادب کښې د شاعرۍ څۀ بله موضوع کښې دا اصناف هېڅ چرتـــه نـۀ دي استعمال شوي ـ تفصيل ئې پـــه دې ډول دے ـ

## ګفتار

ګفتار د پښتو مرثيې يو مقامي صنف دے ـ ګفتار د فارسي ژبې تورے دے چې معنٰی ئې دو کسانو مېنځ کښې خبرې کول دي ـ د ګفتار قافياتي نظام د نظم يو قسم مربع په شان دے ـ سر يا د مطلع څلور واړه مصرعې خپل مېنځ کښې هم قافيه وي ـ په کړۍ يا بند کښې اولنۍ درې مصرعې هم قافيه وي او څلورمه مصرعه د سر يا مطلع سره هم قافيه وي ـ د بندونو په شمېر هېڅ بندېز نشته ـ اکثر ګفتارونه د مکالمې په شکل کښې لیکل کېږي ـ د کربلا د پېښې دوه کردارونو په مېنځ کښې خبرې اترې د ګفتار په شکل کښې لیکل شي ـ ګفتار د خپلو مخصوصو تورو نه ښۀ په اسانۍ سره پېژندل شي ـ دا مخصوص توري د ګفتار په شروع کښې راځي لکه :-

حسين فرمان کو عباس فرمان کو ، بي بي فرمان کو،حسين نارې کړې ، اکبر نارې کړې ، يا داسې ندا شو ، عرض کۀ ، حسين وئيلو ، عباس غـــږ اوکړو، بي بي عرضونه کوي ، علمدار ګويا شو ، فرياد اوکړو ، داسې ګويان شو ، سورې کړې، او داسې نور ـ

ځنې شاعرانو ګفتار د رباعي په هېئت کښې هم ليکلي دي ـ يعني اول، دويمه او څلورمه مصرعه هم قافيه وي او دريمه مصرعه بلې قافيه سره ـ دغه شان ګړۍ هم د سر په شان وي ـ

ګفتار د مجلس په دوران ترنم سره وئيلې کېږي ـ دوه نوحه خوانو کښې اول يو نوحه خوان يوه مصرعه ، دويم دويمه مصرعه په اوچت اواز سره لولي او ګفتار يو مخصوص لے او آهنګ سره لوستے شي اخري مصرعې نه پس پلويان هم يو مخصوص انداز سره اخري مصرعه اوچتوي او د واۓ ، واۓ ، واۓاواز سره ختمېږي ـ

تراوسه پورې د معلوم معلوماتو مطابق مرثيې دپاره ګفتار صنف قنبر علي خان استعمال کړے دے ـ اخون زاده مختار علي نئيرخېل يو مضمون کښې ليکلي دي :

*قنبر علی خان نے پشتو زبان میں مرثیہ کے لیے مروجہ ترکیبوں مثلاً گفتار یا ویر غاڑے کی طرف قطعاً توجہ نہیں دی۔ ۴*

زۀ د اخونزاده مختار علي نئير دې خبرې سره اتفاق نۀ کوم ـ اول اول پښتو مرثيه قنبر علي خان نه سوا بل چاد په ګفتار کښې نۀ ده ليکلې ـ قنبرعلي خان نه وړاندې سيد انور شاه مرثيه ليکلې ده خو د هغه يو ګفتار هم نشته د پښتو مرثيې تاريخ کښې قنبر علي خان نه وړاندې صرف سيد انور شاه مرثيه ليکلې ده ـ نور ټول قنبر علي خان نه روستو دي ـ په اشک قنبر دويم ټوک کښې د قنبر علي خان په سوونو ګفتارونه شامل دي ـ وروسته بيا نورو مرثيه ګو د قنبر علي خان په نقش قدم کېښود او ګفتارونه ليکل ئې شروع کړل ـ د ګفتار مثالونه :

قنبر علي خان

بي بي نارې کړې ډېر ارمانونه دي
دي کربلا کښې سبا جنګونه دي

سر

واړو ته خنکه زامن ګلونه دي
کلثوم په برخه ساړۀ اهونه دي

بند

سبا به واړه جنګ په سامان
جوړ په هنر کړي خپل خوبرويان
له خپل بادشاه نه به کړي قربان
د کلثوم خور خالي لاسونه دي(۵)

خداے نظر

علي اکبر ناري کړي څۀ سلامونه دي
قاسمه واوره د ما عرضونه دي
اول به زۀ ځم مېدان په لوري
د تا پر سر د وادۀ شالونه دي(۶)

سردار علي د کرمې سيمې يو نامتو مرثيه ګو دے ـ هغه د ګفتار ليکلو مروجه طريقې نۀ دي خپلې کړي هغه ګفتار په يو بل انداز ليکلے دے ـ

وه يتيمانو غم مازديګر راغلو
بي بي خيمو له ئې ظالم لښکر راغلو
وړه بي بي ئې بې ګشوارو کړه
په ګرېوانئ ئې وينې راغلي دي(۷)

## بياني

بياني هم د کرمې ، اورکزو او د علاقه بنګش يو مقامي صنف دے ـ بياني کښې هم د کربلا پېښې ذکر کوے شي ـ په بنګش علاقه کښې ورته بيان وئيلې کېږي ـ بياني کښې د يو شاعر د واقعه کربلا وړو وړو واقعاتو باندې خپل ذاتي خيالات بيان کړي دي ـ اکثر بياني د لفظ ''که'' نه شروع کېږي ـ ياده دې وي چې د محرم اول لس ورځو کښې هره يوه ورځ د کربلا يو شهيد په نوم منسوبه

کړې شوې ده ـ لکه چې د محرم اوومه شپه د شهزاده قاسم د وادهٔ سره منسوب ده ـ اتمه شپه د حضرت علي اکبر شهادت سره نهمه شپه د حضرت عباس سره منسوب ده ـ په بياني کښې دا يو څهٔ منسوب نشانې يا شېې په باره کښې يو شاعر د خپل زړهٔ له درده څهٔ بيان اوکړي ـ لکه څنګه وړاندې ذکر شوے دے چې مرثيه ليکل په حېثيت يو اهنګ سره اوربدلو يا وئيلو شاعري ده ـ د پښتو د مقامي اصنافو کښې د هر صنف يو مخصوص اهنګ دے ـ د بياني هم يو مخصوص اهنګ کله نوحه خوان بياني وائي نو ښهٔ پته لګي چې دا بياني دے ـ

تيکنيکي طور د بياني جوړښت داسې دے چې دا د غزل په هېئت کښې ليکل کېږي ـ بياني مطلع او مقطع دواړه لري ـ ټولې مصرعې ئې د غزل په شان وي ـ يعني د مطلع دواړه مصرعې هم قافيه وي ـ باقي نور بندونو کښې د هر شعر دويمه مصرعه د مطلع هم قافيه وي ـ د بيان هرې مصرعې وزن دولس سېلابونه وي ـ د بندونو په شمېر هېڅ بندېز نشته ـ د مواد په لحاظ لکه چې څنګه وړاندې بيان شو چې په بياني کښې د يوې خاص پېښې په باره کښې د شاعر د زړهٔ نه اوتے اواز وي ـ اکثر د يو بياني اولنو شعرونو کښې فلسفيانه انداز کښې خبرې کړې شوي وي او بيا روسته ورو ورو د يوې واقعې يا کردار طرف ته شاعر راځي ـ په غزل او بياني کښې تکنيکي طور دا فرق دے چې په غزل کښې هر شعر ځان ته يو بېله موضوع لري ـ يوه اکائي وي خو په بياني کښې ټول شعرونه يو بل سره مربوط وي يعني د بيان کښې د خيال تسلسل موندلے کېږي ـ

بياني چونکې يو مقامي صنف دے نو ځکه مونږ دا د اورکزئ تيراه ، علاقه بنګش او دکرمې سيمې په شاعرانو کښې ددې ابتداء ګورو ـ خداے نظر اولنے شاعر دے د چا په کلام کښې چې اول ځل بياني اوموندلې شوه ـ د مرثيې دوؤ نامتو شاعرانو سيد انور شاه او قنبر علي خان په مرثيو کښې بياني په نظر نهٔ راځي نومونږ دا وئيلے شو چې دې صنف اول اول خداے نظر متعارف کړے دے ـ

که دردېږي نن زما زړګے دردېږي
صغرا سترګې غړوي اکبر سپارېږي
مخ کښې بيا د زيړو ګلو پسرلے دے

ګل ساتم اکبر به زر راورسېږي (۸)

## الحاج ريحان علي

علي لونه کله راغللې کوفې ته
ښځې نر ورته ولاړ وو تماشې ته
چا دد وئيلو څۀ د روم وطن قيديان دي
په ځير ځير ئې لېږل هرې يوې نيزې ته

خوشحالي وه شور سازونه نغارې دي
عليا سترګې غړوي هرې محلې ته (۹)

### سندره

سندره هم د اورکزئ ايجنسي تيراه ، علاقه بنګش او کرمې پاړه چنار سيمې يو مقامي صنف دے ـ چې په کښې مرثيه ليکلې او وئيل کېږي ـ هسې خو شاعري چې په ساز سره يا بغېر د ساز نه په اهنګ وئيلې کېږي ته سندره وائي چې يو شاعر احساساتو عکاسي په ساده ژبه او فوک په انداز کښې کېږي ـ د موضوع په لحاظ د سندرې لمن ډېره ارته ده ـ عمومي لحاظ سره په سندره کښې د مستۍ او خوشحالۍ بيان کېږي ـ په دې کښې هر قسم بيان ذکر کېدے شي لکه خزان و بهار ، ګل و بلبل ، هجران او وصال ، خوشحالي او غم او داسې نور ـ د پښتونخوا نورو سيمو په شان په کرمه ، اورکزئ او علاقه بنګش کښې هم سندره عام خلق ډېره خوښوي ـ ځکه ددغه سيمو مرثيه ګو دا صنف د مرثيې ليکلو دپاره هم استعمال کېږي ـ د کربلا د پېښې دپاره چې کوم د سندرې صنف استعمال شوے دے هغه يو مخصوص صنف دے ـ دې ته که مصرعه ائيز اووئيل شي نو مناسب به وي ـ پروفېسر عابس حسين ددغه سندرې په باره کښې ليکلي دي ـ

> ” په مرثيې کښې يو مخصوص صنف سندره ده ـ چې هوبهو د ټپې په شان ده او د هر رنګ خيال اظهار په کښې کېدلے شي (۱۰) “

دغه سندره کښې شاعر د واقعه کربلا د یو کردار یا پیښې په باره کښې څو ټپې یا مصرعې اولیکلې او یو ځائے ته ئې راغونډې کړې ـ دې ته سندره وائي ـ د سندرې قافیائي نظام هوبهو د ټپې په شان دے ـ یعني د ټپې اولنۍ مصرعه د نهه سېلابونو او دویمه ئې د دیارلس سېلابونو وي ـ ددې سندرې یوه خاصه خبره دا ده چې دا مقطع هم لري یعني هر یو شاعر چې سندره لیکي په اخري شعر کښې خپل نوم یا تخلص راوړي ـ د بیاني په شان سندره هم اول خدائے نظر لیکلې ده چونکې هغه یو عوامي او فوک شاعر وۀ ـ هغه د کربلا مرثیې دپاره عوامي اصناف استعمال کړي دي ـ اورکزئ ، علاقه بنګش او په کرمه کښې ټول شاعران سندرې صنف ته سندره وائي ـ خو الحاج رېحان علي دې صنف ته "فریاد" وائي ـ اګر که د هغۀ په اولنۍ مرثیو مجموعې کښې هم سندره لیکل شوې ده خو روستو هغۀ دا تورے په فریاد بدل کړے دے ـ زۀ ذاتي طور باندې د سندرې لفظ سره اتفاق نۀ کوم او د الحاج رېحان علي لفظ "فریاد" مناسب ګڼم ـ دا ځکه چې لفظ سندرې سره د انسان په ذهن کښې د خوشحالۍ خبرې راځي ـ او ټوله پښتونخوا کښې سندره د خوشحالۍ په موقع وئیل شوې شاعرۍ ته وائي ـ په یو ملاقات کښې دا خبره راقم الحروف الحاج رېحان علي سره کړې وه چې هغۀ ولې سندرې ته فریاد لفظ استعمال کړے دے ـ هغۀ هم دا خیال وۀ چې د کربلا مرثیو سره د سندره لفظ مناسب نۀ دے بلکې ددغه سندرو په مصرعو کښې د کربلا غم د فریاد په شکل بیان کړے شوے دے نو مناسب دادے چې دې صنف ته د فریاد لفظ ورکړے شي ـ د څو "سندرو" یا فریادونو مثالونه :

خدائے نظر :

پاس په اسمان کښې شور ما شور شو
حسین بادشاه د اکبر جان جنازه وړینه
حسین اکبر ته غېږه ورکړه
زینب خیالي اکبر جبین ته څپه وینه

سید محمد :

د کربلا مېرو کښې شور شو
ورپاري بورې د تنو نه پاڅه وینه
سکینې کلکې کوکې اوکړې
مېدان کښې سره ده اصغر دې لټوینه

## نتائج

د مقالې په اخر کښې زهٔ دې نتیجې ته اورسېدم چې پښتو مرثیه په پښتو ادب کښې د لرغونې زمانې نه موجوده ده ـ په اتلسمې صدئ عیسوي کښې ئې تحریري اثار موندلې شي ـ په پښتونخوا کښې پښتنو شاعرانو پښتو مرثیه په بېلا بېلو اصنافو کښې لیکلې ده ـ په دې کښې ځینې فوک اصناف هم شامل دي ـ لکه مثنوي،نوحه ، غزل،نظم ، ازاد نظم ، چاربېته ، نیمکۍ ، ټپه او داسې نور ـ هم دې سره سره په کرمه ، اورکزئ او علاقه بنګش کښې ځینې مرثیه ګو شاعرانو مرثیه په څو مخصوصو اصنافو کښې لیکلې ده لکه ګفتار، سندره او بیا دا مخصوص اصناف د پښتونخوا په نور سیمو کښې نه لیکل کېږي ـ

## ماخذونه


۱: قادري ، حامد حسین ، مختصر تاریخ مرثیه گوئی مع شاهکار انیس ، بار دوم ، مکتبه جامع لیټډ ، جامع نگر ، دهلي ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۵
۲: رضا همداني ، ادبیات سرحد ، جلد اول ، نیامکتبه ، محله خداداد پشاور ، ۱۹۵۳ء، مخ ٤۱۱
۳: انوري ، سید حسین ، د امام حسین شهادت او مرثیه ، مرتب : جالندهر کرم ایجنسي ، س ن ، مخ ۲۷
۴: اخونزاده مختار علي نئیر ، پشتو کے قدیم مرثیه گو ، مضمون ، مشموله المظهر پشاور ، گولډن پریس ، پشاور ، شماره نمبر۱۵، ستمبر ۱۹۸٦ء ، مخ ۱٦۲
۵: قنبر علي خان ، اشک قنبر ، دویم ټوک ، جالندهر کرم ایجنسي ، س ن ، مخ ۱۳۳
۶: خداے نظر، گلستان اهلبیت ، جلد دوم ، صابر سټشنري مارټ پنجابي بازار، پاره چنار، ۱۹۹٤ء ، مخ ۱۷۷
۷: شعله ، سردار علي ، کاروان کربلا ، ناشر فیاض حسن بنګش ، س ن ، ص ۱۳٤
۸: خداے نظر گلستان اهلبیت پاره چنار ، جلد دوم ، مخونه ۲۸ ، ۲۹

۹: الحاج ریحان علي ، حدیث عشق ، باب زینب ، اسلامیه سټېشنري کلایه ، شېرکوټ کوهاټ ، ۲۰۱۳ء ، مخونه ۸۷ ، ۸۸
۱۰: سید محمد ، داستان کربلان ، جلد اول ، شهید عارف اېجنسي کمپلیکس ، مدینه کالوني جي ټي روډ پشاور ، ۱۹۹۳ء ، مخ ۱۸